مسئولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

نور رحمان لیوال ۲۰۱۸/۰۶/۱۱

خلک په هېواد کی تلپاتی سوله غواړي

موږ په هېواد کې عدالت، تلپاتې سوله ا و قانون ته درناوی غواړو

د اوربند حکومتي بڅرکي وړاندیز او بیا د بډیالو تر هغه کنجوس غبرګون چې یوازې د اختر په ورځو کې به جګړه نه کوي هم د سولې په پار هرکلی کوو.

خو ګډ حکومت ته وایو چې سوله هغه وخت راتلای شي چې په هېواد کې شته درغلی، پساد (فساد)، بې عدالتی او پردي پالنه له منځه ولاړه شي. سولې ته تر ټولو ستر خنډ ستاسې غیرقانوني حکومت او د ملي شتمنیو تالان دی چې نژدې ٦٠ سلنه هېوادوال یې د لوږې د کرښې لاندې په ژوند تېرولو اړ کړي. له امله یې حکومت د خپلو امنیتي ځواکونو تنخاوې نه شئ ورکولای.

منبع عکس: ګوګل

تاسې یاست چې د افغانستان پټمن ولس رایو ته مو درناوی ونه کړ، ولسواکي او قانون مو ترپښو لاندې کړ، د حکومت او حزب اختلاف پرځای مو د خپلو ګټو لپاره ګډ او غیر قانوني حکومت رامنځته کړ چې له پیله تر اوسه یې جګړه لاتوده شوې، تر نیم لاډېر هېوادوال مو په مرګ، ژوبله او اقتصادي ډول زیانمن کړي.
ترڅو چې پورتني او ترهغو لا یو بل ناوړه لامل د سولې سرکښان جنګسالاران وي سوله نشي راتلای او پر داسې وړو وړاندیزونو تاسې د پردیو په مشورو په جګړه او سوله ملنډې وهئ.
تاسې کولای شئ چې عمومي ببښنه او سوله هم اعلان کړئ، که چا ونه منله له حکومته لاسپسر شئ خو خپلو ګټو ته په کتو تاسې داسې نه کوئ چې ملي خیانت دی، موږ په هېواد کې تلپاتې سوله او قانون ته درناوی غواړو.

پای

افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ